Alokozay

1

1 - **دمالی حقوقو منابع** عبارت دی له 1 – اسلامی شریعت 2 اساسی قانون 3 عادی قوانین 4 مقررات اولوایح 5 نړیوال تړونونه 6 قضایه رویه 7 عرف اودکتورین

۲ – **په معاصر دورکی دمالی** علم دپرمختګ دلیل عبارت دی له 1 – صنعتی انقلاب 2 تجارتی شرکتونو رامنځته کیدل 3 په اقتصادی اموروکی ددولت مداخله 4 دعامه مصر افوزیات والی

۳ - **پرعایداتودمالیاتوقانون** ۱۳۷۸ هـ ل کال ۱۷ فصله او۱۱۳ مادی لری

۴ – **دګمرکاتوقانون** ۱۳۸۴ هـ ل کال ۱۶ فصله او۱۹۴ مادی لری

۵ – **دمالی چاروا وعامه** لګښتونواداره کوالوقانون ۱۳۸۴ هـ ل کال ۹ فصله او۶۵ مادی لری

۶ – **دمالی حقوقو اهمیت** عبارت دی له : مالی حقوقو ددوه اساسی موضوعاتوڅخه بحث کوی یوعامه عواید اوبل عامه لګښتونه په عامه عواید وکی په خانګړی ډول مالیا ت تربحث لاندی نیسی چه په اوسنی نړی کی دعوایدو ترټولولویه سر چینه بلل کیږی .

۷ – **اساسی قانون تعریف** : دهغه قواعدو اومقرراتومجمو عه ده چه ددولت قدرت دقدرت انتقال دقدرت اجراء اوددوی ترمنځ روابط ترتیب اوتنظیموی .

۸ **- دافغانستان د۱۳۹۶** هـ ل کال دکلنی بودیجی په سند کی بیاعامه عواید په دوه برخوویشل شوی ا ـ داخلی عواید ۲ – بهرنی کومکونه

۹ – **داخلی عواید** : هغه ته ویل کیږی چه په داخل دافغانستان کی له افغانی سرچینوڅخه تر لاسه کیږی . په دوه برخویشل کیږی 1 – مالیاتی عواید 2 – غیر مالیاتی عواید

۱۰ – **مالیاتی عواید** 1 - ثابت مالیات 2 – پر عایداتوګټه اوپانګه مالیه 3 – په سرمایه مالیات 4 – په سوداګریزومعاملاتومالیات 5 – نورمالیاتی عواید (چه قوانینومشخص کړی وی )

۱۱ – **غیر مالیاتی عواید** : 1 – دمستقیموفعالیتونوله لاری ترلاسه شوی عواید 2 – نور غیر مالیاتی عواید ( چه دمالی امورواوعامه لګښتونه داداره کولوقانون مشخص کړی)

۱۲ - **داسلام نظام دتمویل منابع** : په دوه برخویشلای شو 1 – ثابت عواید 2 – ناثابت عواید

۱۳ – **ثابت عواید : داهغه** عواید دی چه حد اوداخستلو ډول یی داسلامی شریعت لخوا ټاکل شوی وی چه عبارت دی له زکات ؛ غنیمت ؛ جزیه ؛ اوخراج ؛ دفی مال ؛ عشر؛ عشور؛ جرمی؛ اومصادره اموال ؛ رکاز؛ هغه مالو نه چه څښتن ونه لری ؛دمظالمومالونه ؛ ورک شوی مالونه اوداسی نور

۱۴ – **زکات : په لغت** کی نمو(زیادښت ) اوپاکوالی ته وایی اوپه اصطلاح کی زکات هغه مال ته ویل کیږی چه دنصاف نه بعد مسکینانواوفقیرانوته ورکول کیږی

۱۵ – **دزکات فرضیت دلیل** : واقیموالصلات واتوزکات ورکعومع الرکعین . ژباړه اوپابندی د لما نځه کوی اوورکوی زکات اورکوع کوی درکوع کوونکوسره .

۱۶ – **دزکات فرضیت تاریخ** : په مکه مکرمه کی په مسلمانانوفرض شوی مګردنصاف اندازه یی نه وه معلومه دهجرت په دویم کال دزکات په هکله تفصیلی احکام نازل شول نصاف اندازه معلومه شوه اودهرجنس هغه اندازی هم وټاکل شوه چه زکات پکی ورکول کیږی . کله چه محمد (ص) معاذ بن جبل یمن ته والی په حیث ولیږه اودنورولارښونوترڅنګ یی ورته وویل چه الله (ج) په دوی زکات فرض کړی اوله بډایانوڅخه یی واخله اوفقیرانوته یی ورکړه

۱۷ – **دزکات نه دمنکرحکم** : دزکات نه منکرکافردی ابوبکرصدیق (ض) ورسره دجهاد اعلان کړی دی اوکه څوک اسلامی حکومت ته زکات نه ورکوی نواسلامی خلیفه ته په کاردی چه په زوریی ترینه واخلی .

۱۸ – **دزکات وجوب** : 1 مال به وده لرونکی وی . 2 دنصاب اندازه به یی پوره کړی وی . 3 شخص به دکال په اوږدوکی دهمدی نصاب څښتن وی .

۱۹ ـ **دزکات مالونه اواندازه یی** : 1 – سره زراوسپین زر 2 – میوی اودانی 3 – دتجارت مالونه
4 - څاروی

۲۰ ـ **په سپین اوسروکی دزکات اندازه** : دشلودیناروپه اندازه سره زرموجودوی اوکال وربانډی تیرشوی وی نم دینارزکات دی . اود سپینوزرواندازه دوه سوه درهموته ورسیږی نوپنځه درهمه زکات دی.

۲۱ ـ **په اوسنی وخت** کی دوزن په اساس دسروزرواوسپینوزرودنصاب اندازه 1 – دوه سوه درهمه سپین زر(595) گرامه کیږی 2 – اوشل دیناره سره زر (85) گرامه کیږی

۲۲ ـ **په سوداگریزوتوکوکی زکات** : کله چه اموال دسرواوسپینو زرودنصاب ته ورسیږی اوکال پری تیرشی دوه نیم فیصده زکات به تری ورکول کیږی .

۲۳ ـ **په فصلونواومیووکی زکات** : هغه فصلونه چه په باران یاچینواوبه گیږی لسمه برخه او که په زحمت اوبه سره اوبه شوی وی بیابه تر ی شلمه برخه زکات ورکول کیږی .

۲۴ ـ **په څارویو کی دزکات دفرضیت شرطونه** : 1- څاروی به اهلی وی اودشیدواونسل دزیاتوالی لپاره به ساتل شوی وی . 2 نصاب ته به رسیدلی وی 3 – کال به پری تیرشوی وی .
4 – دکال په زیاته برخه کی به په عامه ځر ځایونوکی به څریدلی وی .

۲۵ ـ **هغه څارویو دولونه چه زکات پکی لازم وی** : 1 دغوایانوشمیرچه (۳۰) تنه وی یودانه یوکلن به زکات ورکوی . 2 – اوښان چه پنځوته ورسیږی یوپسه به زکات ورکوی . 3 – چیری چه (۴۰) ته ورسیږی نویوپسه به زکات ورکوی .

۲۶ ـ **دزکات تولنیز پایلی اواثار**: 1 – دټولنیز عدالت تامین . 2 – دطبقاتی نظام مخه نیول کیږی .
3 – دزکات په واسطه عامه امنیت خوندی ساتل کیږی.

۲۷ ـ **غنیمت** : له هغه مال څخه عبارت دی چه له کفاروڅخه په جگړه کی دزورله لاری ترلاسه شی . دغنیمت مال پنځه برخه کیږی 1 – دالله (ج) برخه 2 – محمد (ص) برخه 3 – دخپلوخپلوانو 4 – یتیمانو 5 – مسکینانو اومسافروبرخه .

۲۸ ـ **کنزاورکاز**: کوم اموال چه دانسانانولخواپه ځمکه کی ښخ شوی وی کنز بلل کیږی اورکاز بیاعام دی هرهغه مال چه په ځمکه می پیداشی که انسان ښخ کړی وی اوکه الله تعالی پیداکړی وی رکاز بلل کیږی . کنزاورکاز هم پنځه برخه دبیت المال ده

۲۹ ـ **کانونه** : په هغه رکازاوکانونوکی پنځمه برخه اخیستل کیږی چه په خصوصی ملکیتونو کی راووځی .

۳۰ ـ **خراج** : هغه مال ته ویل کیږی چه اسلامی حکومت لخوا دکفارونه دفتحه شویو ځمکو نه اخستل کیږی .

۳۱ ـ **جزیه** : هغه معین مبلغ څخه عبارت ده چه د ذ میانو( هغه نامسلمانو وگړونه چه په اسلامی هیوادونوکی ژوند کوی اخستل کیږی .
په جزیه کی یوه خبره دیادولووړ ده چه دهرهغه شخص نه اخستل کیږی چه دجنگ په کولو توان ولری دی دماشومانوسپین ږیروښځواومریضانو څخه نه اخستل کیږی .

۳۲ ـ **دجزیه اوخراج ترمنځ فرق** : جزیه داسلام په منلوسره ساقطیږی . اوخراج داسلام په منلوسره نه ساقطیږی .

۳۳ ـ **دفی مال** : هغه مال ته ویل کیږی چه مسلمانانودکفارونه په جنگ کی پرته له دی چه قتال اوقتال په کی وشی نیولی وی . دغه مال هم بیت المال ته لیږدول کیږی .

۳۴ ـ **عشور** : اسلامی حکومت به دنامسلمانودهغه اموالونه چه دسوداگری لپاره یی دداړالحرب نه دارالاسلام ته راوړی وی په کال کی یوځل لسمه برخه اخلی . چه په اوسنی وخت دگمرکاتو سره مشابه دی .

**دلاوارثه ذمی مال** : کله چی ذمی مړشی اووارثین ونه لری دهغه ټول اموال بیت المال ته ځی
: **هغه اموال چی مالک ونه لري** : اسلامی حکومتونه به هغه اموال هم عامه شتمنی ګرځوی
څښتن یی وفات شوی وی اووارثین ونه لری . نو محمد (ص) وائی زه یی وارث یم
. **دمظالمومالونه** : داهغه مالونه دی چی دناروالارولکه دقمار؛ غلا؛ اختلاس ؛ اونوروپه وسیله
شوی وی اواسلامی حکومت دشرعی حکم په اساس بیت المال ته ورل کیږی .
– **ورک شوی مالونه** : هغه مالونه چه ورک شوی وی اوڅښتن یی معلوم نه وی داهم بیت
ل ته ورکول کیږی .
**زکات دلګښت ځایونه** : 1 فقیرانوته 2 مسکینانوته 3 دزکات مامورینوته 4 موالفت القلوب
5 غلام ته دازادی په خاطر 6 قرضدارانوته 7 دالله په لارکی مجاهدینوته 8 مسافروته
– **فقیر اومسکین فرق** : فقیر هغه چاته ویل کیږی چی یوه اندازه مال دګذاری کولوپاره لری
رنصاب نه کم وی . اومسکین هغه چاته ویل کیږی چی هیڅ هم ونه لری .
۴ **- مالی حقوقو تعریف** : دهغه قواعدواومقرراتوله مجموعی څخه عبارت دی چه په
لیاتواودمالیاتوداخستنی پراصولوباندی نظارت کوی اوددولت اوافرادو ترمنځ مالی اړیکی ترتیب
تنظیموی .

ترتیب کوونکی: دتسیر علی زالکوزی)